الحاج فضل الله رشتین ۲۰۱۰/۰۸/۰۱م

# د کابل کنفرانس

د هیواد په تاریخي ښار کابل کښي د کابل د کنفرانس دایریدل یو ستر ابتکار ؤ. په دې ستر کنفرانس کښي د اویاو هیوادو استازو چي پکښي د څلویښتو هیوادو د باندنیو چارو وزیران شامل وو، برخه واخستله. ددې کنفرانس ریاست د افغانستان د جمهور رئیس حامد کرزي او د ملګرو ملتو د عمومي منشي بانك کي مون په غاړه ؤ. ددې کنفرانس دایریدل د جمهور رئیس کرزي د حکومت د پاره یوه ستره لاس ته راوړنه کڼل کیږي. د ولسمشری په ټاکنو کښي په اصطلاح تقلب د جمهور رئیس کرزي د حکومت اعتبار ته زیان رسولی ؤ خو د مشورتي جرګي او د کابل کنفرانس له جوړیدو سره د غه حکومت ته یو څه اعتبار حاصل شو.

د جمهور رئیس حامد کرزي په ستراتیژۍ کښي درې مهم ټکي یا اهداف شامل دي چي هغه د کابل په کنفرانس کښي د نړۍ د اویاو هیوادو او بین المللي ټولنو د استازو له خواد تائید وړ وګرځیدل او هغه درې اهداف دا دي.

* له طالبانو سره "روغه جوړه"
* افغانستان ته د بین المللي ټولني له خوا له مرستو څخه د ۵۰ % د پنځوس په سلو کښي مرستي د افغانستان د دولت له خوا په مصرف رسیدل .
* په ۲۰۱٤ کال کښي افغاني قواو ته د نظامي عملیاتو د قیادت تسلیمول.

اوس به په هر هدف یو څه رڼا واچوو :

۱- له طالبانو سره روغه جوړه :

د کابل په کنفرانس کښي له افغانستان سره د مرسته کوونکو هیوادونو اود بین المللي ټولنو استازو د افغانستان د دولت د سولي او مصالحي پروګرام ته په ظاهره هر کلی ووایه.

له مخالفینو سره د افغانستان ددولت د سولي او مصالحي په پروګرام کښي هغو مخالفینو ته لار پرانیستل شوي ده چي له وسله والو بریدونو څخه لاس اخلي او د القاعدې له تنظیم سره مفکوروي اړیکي نه لري او یا که یې لري هغه اړیکي شلوي. دا مخالفین هغه مخالفین دي چي له القاعدې سره د مفکوروي ارتباطاتو په خاطر نه، بلکي د القاعدې د پاره د پیسو په بدل کښي ددولت په مقابل کښي جنګیږي.

بین المللي ټولني ته دا حقیقت څرګند شوې دی چي د افغانستان لانجه په زور او تشدد نه شي حل کیدای او دا لانجه سیاسي حل غواړي. دوي ته دا حقیقت څرګند شوی دی چي له اسکندر مقدوني څخه نیولي بیا تر روسانو پورې هیڅ قدرت ونه شو کړای چي افغانستان تر خپل حاکمیت لاندې راولي. له نهو کالو راهیسي د نړۍ تقریبا پنځه څلویښت هیوادونه په افغانستان کښي موجودیت لري خو تر اوسه د امنیت په راوستلو کښي کامیاب شوي نه دي. اوس د افغانستان دولت او د ناټو هیوادونه وایي چي د افغانستان لانجه له نظامي لارې حل کیدای نه شي نو ځکه ښایي چي له طالبانو سره د مذاکرې دروازه پرانستل شي .

اوس هغه وخت رسیدلی دی چي په افغانستان کښي نظامي فعالیتونه په سیاسي فعالیتونو بدل شي او د سولي او مصالحي د پاره له مخالفینو سره د مذاکرې او خبرو آترو فضا برابره شي.

د فرانسې د باندنیو چارو وزیر د کابل په کنفرانس کښي وویل چي د سولي د لاس ته راوړلو د پاره ښایي له شجاعت څخه کار واخستل شي او د پرون له دښمنانو سره د سولي خبرې وشي. همداسي د ناټو یو شمیر نورو چاراواکو هم ورته اظهارات کړي دي.

د کابل په کنفرانس کښي ټولو ګډون کوونکو، له مخالفینو سره د افغانستان د جمهور رئیس حامد کرزي د سولي او روغي جوړي له پروګرام سره په ظاهرې ډول موافقه وښودله، دا ډیر امیدورکونکی تحول او پرمختك دی .

د سولي او روغي جوړې د پاره خبرې آساني دي خو عملي کول یې ګران کار دی. د افغانستان د دولت له خوا له مخالفینو سره د سولي او روغي جوړې په وړاندې یو شمیر ستونزې شته چي یو څو یې دا دي.

۱- پاکستان :

پاکستان په افغانستان کښي لکه د ځینو نورو هیوادو خپلي منافع په نظر کښي نیسي. پاکستان به هغه وخت د افغانستان په چارو کښي له لاس وهني لاس واخلي چي ګټي یې تأمین شي. د پاکستان منافع له طالبانو څخه په حمایت کښي خوندي دي. په دې ورستیو ورځو کښي ویکیلیکس ۹۲ زره اسناد خپاره کړل چي په دې اسنادو کښي له طالبانو سره د پاکستان د استخاباراتوای اس آی همکاري په ډاګه شوې ده. له دې څخه معلومیږي چي پاکستان به هیڅ صورت نه غواړي چي خپلي منافع له لاسه ورکړي. د افغانستان او پاکستان تر منځ د اړیکو قوي کیدل هندوستان ته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

تشويش پيدا کوي. ددې تشويش لرې کول سياسي مهارت ته ضرورت لري. همداشان له هندوستان سره د افغانستان تودې او نژدې اړيکي هم د پاکستان د سياستمدارانو او نظاميانو په مزاج نه برابرېږي .
د افغانستان دولت ته ښايي چې ددواړ رقيبو هيواد تر منځ په اړيکو کښي توازن راولي، که دا کار ونکړي نو حالات به د بهبود پر خوا روان نه شي.

د ايران اسلامي جمهوريت:
ايران طالبانو ته د امتيازاتو د ورکولو پلوي نه دی. ايران هم په افغانستان خپلي منافع او خپل اهداف لري. طالبان د ايران د اهدافو او منافعو په وړاندې يو خنډ ګڼل کيږي. ايران له بلې خوا په افغانستان کښي د امريکي او ناټو د پوځي موجوديت سره مخالفت لري. د ايران چارواکو په وار وار دا خبره کړې چې خارجي قواوې دې له سيمي څخه بهر شي او دا اظهارات يې هم کړي چې امريکه به څرنګه چې په ويتنام کښي يې ماته خوړلې وه، هغسي به په افغانستان کښي هم ماته و خوري . د ايران د چارواکو دا اظهارات د افغانستان په کورنيو چارو کښي څرګنده لاس وهنه ده او دافغانستان دولت ته ښايي چې ددې لاس وهنې مخه ونيسي.
د امريکې متحده ايالات:
د امريکې حکومت هم له طالبانو سره د افغانستان د حکومت د سولې او مصالحې له پرګرام سره چندان دلچسپي نه لري. د امريکي هدف دا دی چې هغو طالبانو ته يوه ضربه ورکړ شي چې د القاعدې له تنظيم سره مفکوروي اړيکي لري. په قندهار باندې د طالبانو په ځالو او مورچو د امريکائي قواو حمله چې چمتوالی او آمادګي ورته نيول کيږي، په همدې غرض تر سره کيږي چې د طالبانو اصلي مورچې له منځه يوسي او دوی له دې سيمې نه په شا کړي. امريکه همداشان غواړي چې د پاکستان په خاوره کښي د القاعدې ځالي له منځه لاړې شي . امريکه په همدې خاطر پاکستان ته په مليونونو ډالري ورکوي. امريکه پوهيږي چې که دا کار ونه وکړي نو کيدای شي چې القاعده يو ځل بيا په امريکه کښي په تروريستي اعمالو لاس پورې کړي. اوس سړی نه پوهيږي. له يوې خوا له طالبانو سره د سولې او مصالحي ډنډورې غږيږي او له بلې خوا د طالبانو خلاف په جګړه زور اچول کيږي. دا داسي خبرې دي چې افغان ولس يې دحيرانتيا او پريشانئ په عالم کښي سرګردانه او ډوب کړی دی.
څو ورځي د مخه په مطبوعاتو کښي دا خبر نشر شو چې د طالبانو درې تنه مشران په تور لست کښي ونيول شول، له بلې خوا د افغان دولت له ملګرو ملتو څخه غواړي چې له تور لست څخه د يو شمير طالبانو نومونه لر کړي. له يوې خوا له تور لست څخه د طالبانو د ايستلو خبره کيږي او له بلې خوا په دغه لست کښي د نورو طالب مشرانو نومونه شامليږي. کله چې خبره داسي ده نو بيا له طالبانو سره د سولې او مصالحي ډندورې د څه د پاره دي؟
د افغانستان په دولت کښي د طالبانو مخالفين:
د افغانستان دجمهور رئيس حامد کرزي د اظهاراتو په اساس دده دولت له طالبانو سره د پخلاينې او سولې پروګرام لري.
اوس دا پوښتنې مطرح کيږي چې :
څرنګه کيدای شي چې دا پرګرام عملي شي؟
له کومو طالبانو سره د سولې خبرې کيدای شي؟
څرنګه امکان لري چې په دولت کښي طالب ضد عناصر دې ته راضي شي چې له طالبانو سره د سولې واقعي خبرې وشي؟
آيا طالبان به د افغانستان له دولت سره يو ځای کيدل ومني ؟
د افغانستان ددولت د سولې د پرګرام عملي کيدل ډير ګران کار دی. ملا عمر خو په وار وار ويلي دي چې د کابل له دولت سره د سولې خبرو ته تيار نه دی. د هغه لومړنی شرط له افغانستان څخه د بهرنيو ځواکونو وتل دي. دا هغه شرط دی چې دمنلو امکان يې نه ډير لږ دی.
د امريکې د باندنيو چارو وزيری هيلاري کلنتون په وار ار دا خبره کړې چې امريکې يو ځل افغانستان ته شا کړې وه خو دا ځل به هغه تير وتنه نه تکراروي. د هغې له اظهاراتو څخه معلوميږي چې امريکه او ناټو به تر هغه وخته په افغانستان کښي وي تر څو چې د افغانستان پوځ او امنيتي قواوې ددې جوګه شوي نه وي چې خپل امنيت په خپله وساتي .

د افغانستان په دولت کښي د طالبانو ضد عناصر په هيڅ صورت دی ته حاضر نه دي چې له طالبانو سره روغه جوړه وشي. د ملي امنيت پخواني رئيس امرالله صالح خبر داری ورکړی چې طالبان د کابل دروازو ته رسيدلي دي. نومړی د طالبانو په مخالفينو کښي يو مهم عنصر دی، ده نه غوښتل چې له طالبانو سره د سولې خبرې وشي. ويل کيږي چې نومړی په همدې دليل له دندې ګو ښه کړای شو. د امرالله صالح تر شا دده ټوله ډله ولاړه ده او ټول د طالبانو مخالف دي. هرڅومره چې له طالبانو سره د افغانستان د دولت د سولې او پخلاينې خبرې او آوازې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اوج نیسي په همغه اندازه په دولت کښې د طالب ضد عناصرو حساسیت ډیریږي او له دې سره دا خطر پیدا کیږي چې وسله واله نخښتې منځ ته راشي.

* افغانستان ته د بین المللي ټولنې له خوا له مرستو څخه د ۵۰ % د پنځوس په سلو کښې مرستې د افغانستان د دولت له خوا په مصرف رسیدل .

د کابل په کنفرانس کښې د افغانستان جمهور رئیس حامد کرزي په دې خبره تأکید وکړ چې د بین المللي مرستو څخه باید چې ۵۰% فیصده مرستې د افغانستان د حکومت له لارې مصرف شي. په کنفرانس کښې ګډون کوونکو هم له دې طرحې څخه حمایت وکړ. خو پوښتنه دا ده چې آیا د افغانستان حکومت دا ظرفیت لري چې ۵۰% مرستې په شفاف ډول مصرف کړي ؟ دا کار په لاندنیو صورتونو کښې امکان لري.
۱- له دولتي ادارو څخه د اداري فساد قوي ریښې ایستل، چې دا کار ډیر مشکل دی, اداري فساد په ډیرو اسلامي او عربي هیواد کښې موجود دی خو په هغه اندازه نه دی څومره چې په افغانستان کښې دی.
په مطبوعاتو کښې دا خبرونه نشر شوي چې د پنځه لسو تنو وزیرانو دوسیې چې بر حال وزیران هم پکښې شامل دي په څارنوالۍ کښې تر تحقیق لاندې دي، په دې وزیرانو د رشوت او اختلاس تورنه لګول شوي دي، دا څو میاشتې کیږي چې دا خبرې کیږي خو تر اوسه پورې نه ددغو وزیرانو نومونه افشا شول او نه هم دوي محاکمه شول. اوس پوښتنه داده چې که داسې حال وي نو آیا اداري فساد به له منځه لاړ شي؟
ددې پوښتنې ځواب دادی چې په دې صورت کښې د اداري فساد له منځه تلل امکان نه لري.

اوس که د بین المللي ټولنې د مرستو ۵۰ % د افغانستان حکومت ته ورکړ شي نو هغه به لکه د نورو پیسو نوش جان شي او هیڅ کار به پر مخ لا ړ نه شي.
۲- په دولت کښې کار اهل کار ته نه سپارل :
په دولت کښې کار اهل کار ته نه سپارل د افغانستان د دولت ستره ستونزه ده. په دولت کښې داسې معیارونه وجود نه لري چې د هغو په اساس مناسب کدرونه د مناسبو پستونو د پاره وټاکل شي. دولت داسې کدرونو ته اړتیا لري چې دداسې شخصي صلاحیتونو او اخلاقي، علمي او عملي صفاتو خاوندان وي چې د هغو په مرسته وکولای شي خپلې خپلې چارې په ښه شان سره پر مخ بوځي. کومو کسانو ته چې مهم او قیادي پستونه سپارل کیږي هغوي باید چې د خپلو ، تنظیمي، مذهبي او سیاسي منافعو په فکر کښې ونه وسي، دوي باید ملي نظریات ولري او په ملي مفکوره د خدمت میدان ته ورودانګي . له بده مرغه مونږ وینو چې په دولت کښې هغه کسان قدرت ته رسي چې په ټولنه کښې د اقتصادي، تجارتي قوت خاوندان دي، دا کسان متأسفانه د ځان په ګټه د افغانستان اقتصادي سیاست ټاکي.
د افغانستان دولت ته ښایي چې هغو کسانو ته په قدرت کښې برخه ورکړي چې :
۱- هیواد او خلکو ته مخلص او وفادار وي.
۲- د نفس پاکي ولري.
۳- له وطن سره مینه او اخلاص ولري.
٤- په زړونو کښې رحم او ترحم ولري.
٥- په غریبانو ظلم ونکړي.
٦- د خپلو شخصي ګټو د پاره کار ونه کړي بلکې د خلکو او هیواد ملي ګټې په نظر کښې ونیسي.
۷- د قوم پرستۍ په نشه مست نه وي.
۸- د افغانستان ملي ګټې د پردیو له ګټو قربان نه کړي.
۹- خپل ولسمشر ته وفادار وسي.
که چیرې دولت دا پورتنې ټکي په پام کښې ونه نیسي نو که په ملیاردونو ډالرې ددولت په لاس ورکړ شي نو هغه به د پخوا په شان عیش و نوش شي.
دا فغانستان خلك ښونځیو او پوهنتونونو ته ته ضرورت لري، روغتونو نو او روغتیایي مرکزونو ته ضرورت لري ، د لارو او سړکونو جوړولو ته ضرورت لري، د اجتماعي او اقتصادي ژوند ښه کولو ته ضرورت لري.
که چیرې هغه پیسې چې د جګړې په ماشین لګیږي هغه د افغانستان د بیا رغونې او آبادی په ماشین ولګول شي نو هرڅه به سم شي .

۳- په ۲۰۱٤ کال کښې افغاني قواو ته د نظامي عملیاتو د قیادت تسلیمول:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د افغانستان جمهور رئیس حامد کرزي د کابل په کنفرانس کښي دا خبره وکړه چي تر ۲۰۱٤ میلادی کال پوري به د افغانستان اردو او امنیتي قواوې د امنیت چارې په لاس کښي واخلي او نظامي عملیات به افغاني قواوې تر سره کوي.
په کنفرانس کښي د اویاو هیوادونو او بین المللي سازمانونو ستازو د حامد کرزي دې خبرې ته هم هر کلی وواېه . خدای دې وکړي چي د کرزي حکومت وکولای شي تر ۲۰۱٤ کال پورې د خپل حکومت نظامي او امنیتي قواوې دومره تقویه او پیاوړې کړې چي خارجي قواو ته احتیاج پاتي نه شي. د حامد کرزي دا خبره به هغه وخت په حقیقت بدله او عملي شي چي دا لاندني پیشنهادونه او خبرې په پام کښي ونیول شي.

۱- د افغانستان داردو او امنیتي قواو غیر سیاسي او غیر تنظیمي کیدل.
۲- د اردو او امنیتي قواو په لیکو کښي د پخوانیو مسلکي منصب دارنو راوستل او ټاکل.
٤- په اردو او ملي پولیسو کښي ټولو قومونو ته د هغوي د نفوس په اساس مساویانه برخه ورکول.
۳- د عسکري دورې د نظام اعاده کول.
٤- د ناټو د قواو له خوا په خلکو د ړندو بمباریو بندول.
٥- د افغانستان په چارو کښي د همسایه هیوادونو د لاس وهنو بندیدل.
٦- په ټولو ولایتونو کښي په عادلانه ډول د اقتصادي پرمختیا د پروګرامونو جوړول او عملي کول.
۸- په ولایاتو کښي د مخلصو ، صادقو ، وطن پرستو ، لایقو او کار پوهو والیانو ټاکل.
۹- په هیواد کښي د زورمندانو او جنګسالارانو د زور او قوت ختمول.
۱۰- په دولت داری کښی له اصولو او قوانینو څخه کار اخستل.
۱۱- د فساد اداري سره په ټنګه مبارزه کول او مفسدین د قانون منګلو ته سپارل.
۱۲- د کارونو په اجراء کښي له عدالت، انصاف او مساوات څخه کار اخستل.

د کابل د کنفرانس مهتم او جوړونکی ډاکټر اشرف غني احمد زی ؤ. داکټر اشرف غني د هیواد یو ه علمي هستي ده. د اویاو هیوادو او بین المللي سازمانونو استازو را ټولول او د کنفرانس دایرول کوم آسان کار نه دی. مو نږ ډاکټر اشرف غني او دده په شان نورو عالمانو او پوهانو ته ضرورت لرو، دا وطن د همداسي عالمانو او پوهانو د فکر په برکت آبادیدای او جوړیدای شي .په هیواد کښي د جعل او ناپوهۍ تیرې د همداسي عالمانو او پوهانو د فکر په رڼا روښانیدای شي. هیله لرو چي د افغانستان دولت او په سر کښي د افغانستان محترم جمهور رئیس حامد کرزی به د اشرف غني په شان نورو ډیرو عالمانو او پوهانو ته د کار زمینه مساعده کړي چي وکولای شي د افغانستان ستونزې د عقل او پوهي په وسیله حل کړي.

په درناوي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولــئ